# نوي نسل

ما د وطن د نوی نسل مفکوری ویښول
له نا پوهی اوله اوها مو می ځوانان بچول
یا می غوښتل د وطن شا ړی ګلستان جوړ شي
یا د وطن لاری اوکوځو کی می اغزی شنډول
نه می غوښتل چي افغانان تل وږی تږی اوسی
دخوار غریبووږی نس می په خوراک مړول
ما ویل وطن کي د ظلمونو عاملان ورک شي
د دغه هیلی رسید و ته می روش لټول
نه می غوښتل چي پیغلي کورکی بندی پا تی شي
په دی نیت می بیرته پا تی اند یښنی وچول
هد ف ته ونه رسید م جاهل ملا د لاسه
ملا پر ما تړا په د کفر او الحاد ووهل
دا چی زمونږ اولس ملا لا پیژند لی نه دی
تقصیرزمونږ چی مخکی خلک مو نه پوهول
پروا مه سا ته «مل»اغزن لار کی مزل وهه
ویاړ دی دا دی چی د ښمن دی هم ولرزول
…………………… جرمنی «2021-01-27»